# ما پرېږدئ تر څو چې ما پرېښي یاست، یقینا ستاسو څخه مخکیني خلک د ډېرو پوښتنو او د پېغمبرانو په سر د اختلاف له امله هلاک شوي دي

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (ما پرېږدئ تر څو چې ما پرېښي یاست، یقینا ستاسو څخه مخکیني خلک د ډېرو پوښتنو او د پېغمبرانو په سر د اختلاف له امله هلاک شوي دي، نو کله مې چې له یو کار څخه منع کړئ نو ډېره ترې وکړئ، او کله مې چې درته په یو څه امر وکړم نو د خپلې وسې په اندازه یې پر ځای کړئ).
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې شرعي احکام په دریو برخو وېشل شوي دي: هغه چې سکوت پرې شوی دی، او ممانعتونه او اوامر دي. لومړی: هغه څه دي چې شریعت یې په اړه چوپ پاتې شوی او هېڅ حکم یې نه دی کړی، او اصل په شیانو کې دا دی چې واجب نه دي؛ د هغه صلی الله علیه وسلم په زمانه د یو کار په اړه چې لا واقع شوی نه و د پوښتنې کولو څخه ډډه کول لدې امله اړین و چې هسی نه واجب شي او یا روا نا روا وګرځي، ځکه چې الله تعالی پر بندګانو د رحمت له مخې پرېښې وې. خو د هغه صلی الله علیه وسلم له مرګه وروسته که پوښتنه د فتوا یا تعلیم په بڼه وي چې په دیني مسئله کې ورته اړتیا وي، نو روا ده بلکې امر پرې شوی دی، او که هغه د مشقت او تکلف له مخې وي نو د همدې ډول په اړه په حدیث کې د پوښتنې کولو ممانعت راغلی؛ ځکه کېدی شي له امله یې داسې څه رامنځته شي لکه په بني اسرائیلو کې چې پېښ شوي و، کله چې هغوی ته د غوا د حلالولو امر وشو، نو که دوی هره غوا حلاله کړې وه، امر به یې پر ځای کړی و، خو هغوی سختي وکړه، نو سختي ورسره وشوه. دویم: ممانعتونه؛ او هغه عبارت دي له هغو کړنو څخه چې پرېښودونکي ته یې اجر او کوونکي ته یې جزا ورکول کیږی، نو له ټولو څخه ډډه کول واجب دي. دریم: اوامر دي؛ هغه کارونه چې تر سره کوونکي ته یې ثواب ورکول کیږي، نو د وسې په اندازه پر ځای کول یې واجب دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4295

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee